**په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د مرستي هيئت**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون: ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱ – ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱**
**بریښنا لیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب پاڼه:** www.unama-afg.org

## په بلخ ولایت کې د ماین پاکانو پر ضد د برید په اړوند
## د ملګرو ملتونو د سرمنشی د ځانګړی استازی مرستیال بواسپلند اعلامیه

زه د بلخ په ولايت کي د ماين پاکانو پر ضد د پرون ورځي برید له کبله سخت لړزيدلی او غمجن یم چي د بلخ په ولايت کي يي په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د ماين پاکولو د پروګرام د پلی کولو د افغان تخنيکي سلاکارانو (ATC) په نوم همکاري مؤسسي سره کار کاوه.

د دی موسسی یوي دولس کسيزي ډلي پرون ماسپښين د چمتال په ولسوالی کي له ماینونو څخه د ځمکي پاکولو کار کاوه چي په ناڅاپه ورباندي د نامعلومو موټر سايکل سپرو له خوا برید وشو او پنځه تنه افغاني کارکوونکي يي مړه او نور اووه تنه يي ټپيان کړل.

ماين پاکوونکي هره ورځ خپل ژوند د دي لپاره په خطر کي اچوي چي د افغانستان د خلکو د ژوند سلامتی تامين کړي او دا د سخت کرکی وړ خبره ده چي يو څوک په داسي بي باکی او ظالمانه توګه دا ډول تر خپل ځان تير اشخاص په نښه کړي، څوک چي د هغه مړينو او ټپونو څخه د افغانستان د خلکو د خلاصون لپاره کار کوي، چي د ځمکنيو ماينو له کبله منځ ته راغلي ده.
زه غواړم چي دغو زړورو نارينه وو ته خپل ژور احترام او درناوي وړاندي کړم او ټولو هغو کورنيو ته خپل تسليت او غمشريکي اظهار کړم چي د دغه برید په پايله کي ځوريدلي دي.

*کابل، د مارچ ۲۴، ۲۰۰۸ کال*